صاحب امتیاز:
د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنيو مرکز
د اړيکې شمېره:
+93 (0) 202100633
ایمیل:
info@gmic.gov.af
آدرس:
مرمرينه مانۍ، بهرنيو چارو وزارت
ته مخامخ، کابل - افغانستان

شپږمه ګڼه

# ارګ پاڼه



د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: جمادي الثاني ۹، کال ۱۴۴۳ هجري قمري

**تحصيل حق هر تبعهٔ افغانستان است و برای هر افغان اعم از پسران و دختران زمينه‌های خوب تحصيلی تا رده‌های بالا فراهم می‌شود، تا در محيط خوب و امن درس بخوانند.**

محترم ملا عبدالغنی برادر اخوند، معاون رياست الوزراء ا.ا.ا.

## د اسلامي امارت د کابينې غونډه دائره شوه



د افغانستان اسلامي امارت د کابينې غونډه د رئيس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند په مشرۍ او د ټولو وزارتونو او مستقلو ادارو د مسؤلينو په ګډون دائره شوه. غونډه د قران کريم د مبارکو آيتونو په تلاوت پيل شوه، وروسته د بيلابيلو موضوعاتو په اړه بحث او پريکړې وشوې.

د کابينې مجلس د اجنډا يوه مهمه موضوع د بوديجوي کال ټاکل او د ماليې وزارت لخوا د ضميمه بوديجې د طرحې ارزول و. د کابينې د پريکړې په اساس د هجري شمسي کال له جدي مياشت څخه د بوديجوي کال پيليدل لغو او د لومړۍ مياشتې (حمل) له لومړۍ نيټې څخه د نوي بوديجوي کال پيليدل تصويب دي. کابينې د روان ۱۴۰۰ هجري شمسي کال د پاتې درې مياشتو (جدي، دلو، حوت) لپاره د ماليې وزارت لخوا چمتو شوې د ضميمه بوديجې طرحه پرته له کوم تغير او تبديل څخه تصويب کړه. د يادونې وړ ده چې وروسته له څو لسيزو دا لومړی ځل دی چې د هېواد بوديجه پرته له بهرنيو مرسته د داخلي امکاناتو په اساس جوړيږي. پاتې برخه ٦

## ديدار معاون رياست الوزراء امارت اسلامی با معين وزارت خارجه ترکمنستان

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون رياست الوزراء امارت اسلامی افغانستان با آقای وفا حاجيوف معين وزارت امور خارجه ترکمنستان و هيات همراه اش، ديدار نمود.
در اين ديدار که در ارگ انجام شد و در آن آقای محمد مراد امانوف رئيس شرکت تاپی و سفير ترکمنستان در افغانستان نيز حضور داشتند، هر دو جانب در مورد گسترش روابط پاتې برخه ۵

## اقتصادي کميسيون غونډه ترسره شوه

د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ د اقتصادي کميسيون غونډه تره سره شوه. په ياده غونډه کې د موظف پلاوي پر راپور بحث وشو او د هېواد د اقتصادي وضعيت سربېره د معياري نفتو او ګازو د واردولو په اړه بيلابېلې طرحې وارزول شوې. پاتې برخه ۵

## ترکمنستاني چارواکي: په افغانستان کې د تاپي پروژې د تطبيق زمينه برابره شوې



د ترکمنستان د بهرنيو چارو مرستيال وزير ښاغلی وفا حاجيوف چې د يوه پلاوي په مشرۍ يې د افغانستان هرات ولايت ته سفر کړی، ويلي چې د افغانستان وضعيت ښه شوی، نو ځکه په دغه هېواد کې د تاپي پروژې د تطبيق زمينه برابره شوې ده.
د ترکمنيستان د بهرنيو چارو وزارت مرستيال او د تاپي پروژې عمومي رئيس ښاغلی محمد مراد امانوف او ورسره پلاوي د تاپي پروژې د کار د ګړندي کېدو په موخه د هرات د سوداګرۍ خونې له مشرانو سره وکتل.
په دې ليدنه کې ښاغلی محمد مراد امانوف وويل چې د تاپي پروژې د تطبيق پاتې برخه ٦

## ۱.۵ ميليارد دالر برای کمک به افغانستان جمع آوری شده است

استفان دوجاريک سخنگوی دبير کل سازمان ملل متحد اعلام کرده که ۱.۵ميليارد دالر برای کمک به مردم افغانستان جمع آوری شده است.
او تاکيد کرده که شرکای بشردوست سازمان ملل متحد برای تدارک کمک ها به افغانستان رقابت می کنند و تنها در ماه دسمبر به ۷ ميليون نفر کمک مواد غذايی توزيع کرده اند.
به گفته سخنگوی دبيرکل سازمان ملل متحد، کمک نقدی، خوراکی وغير خوراکی در نقاط مختلف افغانستان در حال انجام است.
دوجاريک گفت که تمويل کنندگان ۱،۵ ميليارد دالر برای کمک بشردوستانه در سال ۲۰۲۱ به افغانستان فراهم کرده اند. #




از روزنامه انيس

## له زيانمن شويو خلکو سره دې بيړنۍ مرستې وشي

د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د پېښو پر وړاندې د مبارزې کمېسيون لومړنۍ ناسته ترسره شوه.
په دې ناسته کې د ياد کمېسيون اړوندو وزارتونو او ادارو ته امر وشو، چې د وروستيو ورښتونو له امله له زيانمن شويو خلکو سره بيړنۍ پاتې برخه ۲

## اسلامي امارت نه غواړي چې هيڅ افغان دې په هېواد کې د پردي والي احساس وکړي

د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء مرستيال محترم مولوي عبدالکبير له يو شمېر مشايخو او ديني علماو سره چې له کابل او بيلابېلو ولايتونو راغلي وو په سپيدار مانۍ کې وکتل.
په دې کتنه کې ګډونوالو د اشغال پر پاتې برخه ۲

## اسلامي امارت هڅه کوي چې ولس په ډاډمنه فضا کې ژوند وکړي

د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء مرستيال محترم مولوي عبدالکبير د پروان، کاپيسا، ننګرهار، لغمان او کنړ ولايتونو د صافي قوم له يو شمېر مشرانو او متنفذينو سره وکتل. پاتې برخه ۵

## ”له ټولو هېوادونو سره د ښو اړيکو غوښتونکي يوو“

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو سرپرست وزير محترم مولوي اميرخان متقي وايي چې د افغانستان نوی حکومت د هېواد په ټولو برخو واکمني لري او هېڅ هېواد به د افغانستان له خاورې ونه ګواښل شي.
محترم مولوي اميرخان متقي چې په يوې مجازي ناسته کې په امريکا کې مېشتو افغانانو سره خبرې کولې، زياته کړه چې د افغانستان سياسي ځنډې ته کول د هېڅ هېواد په ګټه نه دي. او اسلامي امارت د ښې حکومتوالۍ او له ټولو ګاونډيو، سيمه ييزو او نړۍوالو هېوادونو سره د ښو اړيکو د ټينګښت په برخه کې د نوي څېرکي پرانيستو ته ژمن دی.
ښاغلي متقي زياته کړه:«موږ له ګاونډيو، سيمه ييزو او نړۍوالو هېوادونو سره د مثبتو او جوړونکو اړيکو په لټه کې يوو. موږ غواړو له نورو هېوادونو سره تعامل ولرو او دغه تعامل د متقابل درناوی پر بنسټ وي.»
د ا.ا.ا. د بهرنيو چارو سرپرست وزير دې موضوع ته په اشارې چې دم کړۍ هم د تېر پاتې برخه ٦

**۴۳ کاله وروسته داسې نظام رامنځته شو چې مطلق د افغانانو په ملاتړ او زلمو يي د سرونو په قيمت ازادي حاصله او نظم برقرار کړ. لومړی ځل دی ټول وطن کې يو حکومت او امن بر قرار دی اقتصادي ستونزې ورته د ګټلې ازادۍ په غچ کې جوړې دي نظام د تخريب پرځای اصلاح غواړي کنې له ۴ خواوو خوړل کېږو.**

محترم مولوي محمد يعقوب مجاهد، د ا.ا.ا. د ملي دفاع وزارت سرپرست وزير

**د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداره (اوچا) وايي، په افغانستان کې د دوی بشري مرستې روانې دي او په پام کې لري چې په ۲۰۲۲ زېږديز کال کې ۲۲ ميليونه افغانانو سره بشري مرسته وکړي.**

**هېوادوالو ته ډاډ ورکوم چې اسلامي امارت له بېړنيو حالاتو سره مقابلې ته بشپړ چمتوالی لري. ټولو حکومتي ادارو ته امر شوی، چې له توان سره سم د خپل ولس مرسته وکړي او خپل مسئولیت ادا کړي.**

د ا.ا.ا. د ریاست الوزراء مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# اسلامي امارت کوښښ کوي عدالت سل په سلو کې تامين او د باور فضا رامنځته کړي

**د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د اهل تشيع يو شمېر علماو، استادانو، متنفذينو او ځوانانو سره چې د هېواد له ۱۸ ولايتونو راغلي وو، په خپل کاري دفتر کې وکتل.**

**په دغه کتنه کې سيد حسن شريفي بلخابي او عابدين احمدي سمنګاني د نورو په استازيتوب خبرې وکړې.**

**دوی له اسلامي امارت خپل ملاتړ اعلان کړ او د اميرالمؤمنين عمومي عفوه يې د ملي يووالي د پياوړتيا لپاره زرين چانس وباله ټينګار يې وکړ، هيچا ته دې دا موقع نه ورکول کېږي چې خدای مکړه دغه فرصت ضايع کړي.**

**يادو ويناوالو دغه راز د اهل تشيع يو شمېر ستونزو ته د رسيده ګۍ غوښتنه هم وکړه.**

**محترم مولوي حنفي دوی ته د هرکلي پر مهال ډاډ ورکړ چې اسلامي حکومت کوښښ کوي عدالت سل په سلو کې تامين، ټولې موجوده ستونزې لمنځه يوسي، د تېر ۴۳ کلن جنګ شوم اغېز ختم او د تېر په پرتله لا زياته د باور فضا رامنځته کړي.**

**د اسلامي امارت د رياست الوزراء مرستيال څرګنده کړه چې د دوی غوښتنو ته به رسيده ګي کېږي.#**



# امریکا با منجمد ساختن دارایی های کشور، در حق افغانها جفا می کند

بعد از استقرار نظام جدید در کشور، امریکا بر اساس خصومت آشکارا که از ۴۰ سال گذشته تا اکنون با ملت افغانستان دارد تمام دارایی های این کشور را بی هیچ دلیل موجه در بانک جهانی منجمد ساخته است؛ حالا که بیش از ۴ ماه از نظام امارت اسلامی در افغانستان سپری میشود امریکا برای آزاد سازی دارایی های کشور نه تنها صداقت از خود نشان نداد بلکه روز تا روز بر دشمنی خویش علیه مردم افغانستان افزوده است.

امریکا در پی شکست اش در افغانستان تلاش دارد تا از طریق منجمد ساختن دارایی های این کشور، امارت اسلامی را تحت فشار قرار داده تا از این رهگذر، اقتصاد کشور رکود نموده و میزان فقر و آواره گی را بیشتر سازد.

امارت اسلامی افغانستان به عنوان یک نظام مسئول، همواره سعی ورزیده تا بر مشکلات اقتصادی موجود فایق آمده و مشکل برخواسته را از راه دیپلوماتیک حل نماید. برعلاوه، با توجه به بحران موجود اقتصادی در کشور، ملت افغان در خصوص آزاد سازی دارایی های منجمد شده افغانستان تظاهرات مدنی متعددی را نیز در شهر کابل به راه انداختند.

امارت اسلامی از آوان حاکمیت اش الی اکنون به صورت متداوم از امریکا و هم پیمانان اش خواسته تا پول های منجمد شده این کشور که حق مسلم ملت و حکومت است را آزاد سازد. و اما امریکا به خواست برحق امارت اسلامی افغانستان و ملت افغان اعتنایی نکرده که این امر باعث افزایش میزان فقر و بیکاری در کشور گردیده و زنده گی اجتماعی و اقتصادی افغانها را با چالش های گوناگون مواجه ساخته است.

با وصف اینکه افغانها با مشکلات جدی اقتصادی دست و پنجه نرم می کنند، اما با استقامت و حوصله مندی از امارت اسلامی حمایت نموده و متعهد به دوام همکاری با نظام موجود در کشور اند.

رهبری امارت اسلامی افغانستان با تلاش های شبانه روزی سعی می ورزند، در هماهنگی با کشور های منطقه و سامان های بشردوستانه در کشور، میزان کمک های بشردوستانه را برای کاهش فقر در افغانستان بیشتر ساخته و با تامین شفافیت در جمع آوری عواید و تطبیق پروژه های زیربنایی و اقتصادی در کشور، فرصت های شغلی و اقتصادی را برای افغانها فراهم سازد. #

**مردم بالای نظام حق دارند و امارت اسلامی تلاش می کند تا مردم در امنیت و آرامش به زنده گی خود ادامه دهند.**

محترم مولوی عبدالکبیر معاون ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان

**د هندوستان هېواد له خوا افغانستان سره د مرستو په لړ کې شپږ ټنه درمل کابل ته راورسېدل. څو ورځې وړاندې هم هندوستان له افغانستان سره پنځه لکه ډوزه د کرونا واکسین مرسته وکړه. د افغانستان اسلامي امارت د هند هېواد له بشردوستانه مرستو او همکارۍ څخه مننه کوي.**

محترم ذبیح الله مجاهد، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال او د ا.ا.ا. ویندوی

**امارت اسلامی تلاش دارد تا عدالت را صد در صد تامین نموده، مشکلات موجود را از میان برداشته و فضای اعتماد را به میان آورد.**

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا.

پاتې برخه...

## له زیانمن شویو خلکو سره دې بېړنۍ...

مرستې وشي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د پېښو پر وړاندې د مبارزې کمېسيون ټولو ارګانونو ته سپارښتنه وکړه، چې په راتلونکي کې دې د طبيعي پېښو د رامنځته کېدو پر مهال هېوادوالو ته د مرستو رسولو لپاره پوره چمتووالی ونيسي. #

## د جګړې د دوامداره اړخونو د قربانیانو پالنه زموږ مسئولیت دی

له شريعت ورځپاڼې

د افغانستان اسلامي امارت وياند محترم ذبيح الله مجاهد وايي چې د تېر دولت او اسلامي امارت د بې سرپرستو کورنيو د ستونزو حل د حکومت مسئوليت دی. دا په داسې حال کې ده چې په تېر دولت او د اسلامي امارت په ليکو کې ګڼو خلکو د خپلو کورنيو غړي له لاسه ورکړي چې دا مهال له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي؛ خو د اسلامي امارت وياند ډاډ ورکوي چې د دوامداره لوريو د ستونزو حل ته به پاملرنه کېږي.

د اسلامي امارت وياند وويل، هغه سرتېري چې په تېر دولت او د اسلامي امارت په ليکو کې يې ژوند له لاسه ورکړی، د هغوی يتيمان او کونډې د هېواد يتيمان او کونډې دي.

مجاهد زياتوي چې د دوی لاسنيوی به کېږي او پرته له کوم توپير به پرې مرستې وېشل کېږي. د اسلامي امارت وياند څرګنده کړه: د افغانستان اسلامي امارت او تېر دولت سرتېرو د کورنيو غړي دواړه زموږ هېوادوال دي او د حکومت مسئوليت دی چې ستونزو ته يې حل لارې پيدا کړي. #

پاتې برخه...

## اسلامي امارت نه غواړي چې هیڅ افغان...

وړاندې د جهاد او مقاومت د بريا او په هېواد کې د اسلامي نظام د حاکميت د اعادې مبارکي ورکړه او له اسلامي نظام يې خپل قاطع ملاتړ او همکاري اعلان کړه. همدارازيې د بېلابېلو ديني او ملي مسايلو په اړه خپلې مشورې او وړانديزونه شريک کړل.

محترم مولوي عبدالکبير ډاډ ورکړ، اسلامي امارت نه غواړي چې هيڅ افغان دې په هېواد کې د پردي والي احساس وکړي. افغانستان د ټولو ګډ کور دی او بايد ټول په سوله او امن کې ژوند وکړي. اختلافات به پر خپل ځای وي، خو موږ ټول بايد په دغه کور کې ارام ژوند وکړو.

د رياست الوزراء مرستيال د جهاد او مقاومت په ټولو دورو کې د علمای کرامو رول او دغه راز له ديني ارزښتونو او ملي يووالي د خونديتوب په برخه کې د دوی ګډې هڅې وستايلې او ژمنه يې وکړه چې مشورو او وړانديزونو ته به يې ځانګړې پاملرنه کېږي.#

# ګورډن براون: امریکا او ملګري يې په افغانستان کې پر بشري ناورين سترګې پټوي

له هېواد ورځپاڼې

د برېتانيا پخوانی لومړی وزير ګورډن براون له نړيوالې ټولنې څخه غوښتنه کړې، چې په بېړه له افغانستان سره بشري مرستې وکړي.

براون وايي: لويديځ د نننۍ نړۍ د تر ټولو ستر بشري بحران په اړه ويده دي. د ده په وينا: په افغانستان کې ۲۳ ميليونه وګړي له لوږې سره مخ دي، خو امريکا او ملګري يې پر دې بحران سترګې پټوي. نوموړي ټينګارکړی، چې ډېر ژر بايد د پيسو ټولولو لپاره يو نړيوال کنفرانس راوبلل شي، تر څو د افغانستان لپاره د څلور اعشاريه پنځه ميلياردو ډالرو مرسته برابره کړي. د يادونې وړ ده چې له دې وړاندې هم يو شمېر مرستندويو سازمانونو له نړيوالې ټولنې څخه له افغانستان سره پر بشري مرستو ټينګار کړی دی. #

**ما زمینه را برای استفاده از منابع طبیعی به‌خصوص سرمایه‌گذاری در استخراج قانونی معادن و صادرات معدنیات مساعد می‌سازیم و از این طریق به سوی خودکفایی اقتصادی می‌رویم و برای مردم خود اشتغال‌زایی می‌کنیم.**

محترم ملا عبدالغنی برادر اخوند معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا.

## ۱۵۰ زرو تنو ته د پوځ سرتېرو د زیاتوالي لپاره هلې ځلې

لوی درستيز محترم قاري فصيح الدين فطرت وايي چې په هېواد کې يو ۸۰ زره کسيزه پوځ چمتو شوی دی او ۱۵۰ زرو تنو ته د پوځ سرتېرو د شمېر لوړولو لپاره هڅې دوام لري.

محترم قاري فصيح الدين فطرت د ملي پوځ د ۵۰۰ سرتېرو په فراغتغونډه کې وويل چې تر اوسه د هېواد په قول اردو ګانو کې ۸۰ زره مجاهدين ځای پر ځای شوي.

محترم قاري فصيح الدين فطرت څرګنده کړه: «هغه کسان چې دواطلب وي حتما جذب کېږي او همدارنګه له مسلکي کسانو به هم کار واخيستل شي.»

دغه جګپوړی پوځي چارواکی ټينګارکوي چې د اسلامي امارت ځواکونه د هېواد د پولو د ساتنې بشپړه وړتيا لري.

امنيتي چارواکي يو ځل بيا خبرداری ورکوي، هغه کسان چې د اسلامي امارت له نوم څخه ناوړه ګټه پورته کوي، مجازات به شي. #

**د افغانستان اسلامي امارت له نظامي ليکو څخه دوه نيم زره کسان اېستل شوي دي.**

محترم مفتي لطيف الله حکيمي د صفوفو د تصفيې کميسيون رئيس

**اميرالؤمنين داسې ټول شموله ښښنه کړې، چې تر پاچا او ګدا پورې ټول پکې شامل دي او موږ هم عمومي عفوې ته ژمن يو.**

د ا.ا.ا. د رياست الوزراء مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

صليب سرخ:

## جامعه جهانی برای آزاد سازی پول های افغانستان باید میانجیگری کند

از روزنامه انیس

الیو فیلیون رئیس نمایندهگی صلیب سرخ در افغانستان در مصاحبه با سی ان ان گفته است تا برای آزاد سازی پول های نقد افغانستان، جامعه جهانی میانجی گری کند: «در حال حاضر مشکل اصلی افغانستان کمبود پول نقد است. آنچه برای آینده لازم است این است که جامعه جهانی در وارد کردن پول به اقتصاد افغانستان انعطاف نشان دهد. معاشات کارمندان دولتی باید پرداخته شود، برای احیای اقتصاد، بخش خصوصی باید یک سیستم بانکی کارآمد داشته باشد تا مردم بیشتر در فقر قرار نگیرند.»

در همین حال سازمان ملل متحد نیز از وضعیت روان در افغانستان ابراز نگرانی کرده است.

استیفن دوجاریک یکی از سخنگویان سازمان ملل متحد اخیراً در نیویارک به خبرنگاران گفت: « بارندهگی های اخیر و زمستان سرد مشکلات پیش روی افغان ها را شدت بخشیده است.» دوجاریک افزود، در روزهای آینده بارندهگی بیشتر پیشبینی میشود و مردمان بیشتری را متضرر خواهد ساخت.

با اینکه سازمان ملل متحد مگوید، تنها در ماه دسمبر به هفت میلیون نیازمند افغان کمک رسیده اما گراف فقر از هر زمان دیگری بیشتر شده است.

آمار رسمی سازمان ملل نشان میدهد که در سال ۲۰۲۲ میلادی ۲۳ میلیون افغان به کمک های اضطراری نیاز دارند.

این سازمان برای فراهم کردن کمک به این افراد خواستار چهار و نیم میلیارد دالر از جامعه جهانی شده است.

در کنار آن آمار سازمان صحی و غذای ملل متحد نشان میدهد که نزدیک به چهار میلیون زن و کودک در افغانستان به سوء تغذیه مبتلا اند که از این میان ۱.۲ میلیون به کمک های فوری نیاز دارند.

عبدالغنی برادر معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا. در مصاحبه با تلویزیون ملی نیز گفت که مشکلات فرا راه توسعه اقتصادی افغانستان باید به طور اساسی حل گردد. #

پاتې برخه...

## اسلامي امارت هڅه کوي چې ولس...

په دغه کتنه کې چې په سپېدار ماڼۍ کې وشوه، په پېل کې متصل کمکي او مولوي عبيدالله شاهد د نورو په استازولۍ خبرې وکړې او افغانستان يې د ټولو شريک کور وباله؛ دوی دغه راز په بېلابېلو برخو کې خپلې غوښتنې او وړانديزونه هم بيان کړل.

يادو مشرانو او متفذينو د افغانستان اسلامي امارت سره د همکارۍ اماده ګي اعلان کړه وې ويل، دوی اسلامي امارت ته د مشورې ورکولو په برخه کې تل حاضر دي او ملاتړ يې کوي.

د رياست الوزراء مرستيال محترم مولوي عبدالکبير اسلامي امارت څخه د صافي قوم مشرانو د ملاتړ مننه وکړه وې ويل، خلک پر نظام حق لري او اسلامي امارت هڅه کوي چې ولس په خوندي امنيت او ډاډمنه فضا کې ژوند وکړي.

د رياست الوزراء مرستيال د دې په بيانولو سره چې اسلامي امارت د افغانستان د بيارغاونې لپاره زياتې برنامې لري او ولس سره همکارۍ ته اماده دی وويل، د اسلامي امارت رهبري سره ستاسې وړانديزونه شريکېږي او رسيده ګي به ورته وشي.#

**آنانی که زیر سلطه ۴۰ بیرق غربی خود را آزاد و مرزهای افغانستان را مصئون فکر می‌کردند، اکنون از غلبه احتمالی کشورهای همسایه نگران اند. ایشان نگران نباشند، آنانی که کشور را از سیطره ۴۰ کشور نجات دادند، بهتر می‌دانند که چطور باید از وجب وجب خاک خود حراست نمایند.**

محترم انعام الله سمنگانی، معاون سخنگوی امارت اسلامی افغانستان

بقيه...

## دیدار معاون ریاست الوزراء با معین وزارت خارجه...

و همکاری میان دو کشور و تطبیق پروژه های منطقوی به ویژه پایپ لاین گاز تاپی، بحث و تبادل نظر کردند.

ابتدا آقای وفا حاجیوف گفت که هدف سفر ما تعقیب کار پروژه تاپی است و در این راستا منابع مالی و تمام آماده گی های لازم گرفته شده است.

وی ضمن اینکه در مورد منفعت های پروژه تاپی در راستای اشتغال زایی و رونق تجارت در افغانستان معلومات ارائه کرد، پیشنهادات جانب ترکمنستان را در زمینه های استملاک زمین، معافیت مالیات در مرحله تطبیق پروژه تاپی تا هرات و طرح امنیتی، با معاون ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان شریک ساخت.

همچنان آقای محمد مراد امانوف رئیس شرکت تاپی در مورد مسایل تخنیکی پروژه تاپی و سهولت های که این پروژه در زمینه اشتغال زایی و تجارت به میان می آورد، معلومات ارائه نمود.

در مقابل، محترم مولوی عبدالسلام حنفی ضمن خوش آمدید به معین وزارت امور خارجه کشور ترکمنستان و هیأت همراه اش، گفت که مناسبات افغانستان با ترکمنستان نیک و حسنه است و در راستای گسترش آن تلاش خواهیم کرد.

وی افزود که حکومت و ملت افغانستان پروژه تاپی را منحیث یک پروژه ملی خویش دانسته و به آن اهمیت قایل هستند و ما هر لحظه آماده می باشیم تا بخاطر تطبیق آن گام های عملی برداریم.

معاون ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان گفت که ادارات مربوطه دو کشور بخاطر آماده ساختن شرایط لازم برای تطبیق پروژه تاپی کار خواهند کرد.#

**د افغانستان په خاوره کې د ټاپي پروژې د لومړي پړاو کار چې د هرات له تورغنډۍ څخه تر ګذرې ولسوالۍ پورې رسيږي، به ډېر ژر پيل شي. په دې پړاو د ترکمنستان لخوا ۵۸۸ ميليونه ډالر پانګونه کيږي.**

**د افغانستان اسلامي امارت ځانګړي پوځي قطعات په هرډول شرايطو کې د خپل ولس په خدمت کې دي. دوی د هېواد په دې واورين او يخ موسم کې ويښ او بيدار دي او خپله دنده په ښه توګه سرته رسوي.**

محترم بلال کريمي د افغانستان اسلامي امارت مرستيال وياندوی

**باید رفتاری را پیشه کنیم که جهانیان بگویند "دین همین است".**

وزارت دعوت و ارشاد، امر بالمعروف و نهی المنکر امارت اسلامی افغانستان

## امريکا غواړي پر اسلامي امارت خپلې غوښتنې تحميل کړي

د انيس له ورځپاڼې

د سياسي چارو يو شمير کارپوهان وايي، امريکا د کنګل شويو پيسو د خلاصولو او اقتصادي بنديزونو د لرې کولو په بدل کې پر کابل خپلې غوښتنې تحميلوي او دې ته يې اړ باسي، چې د پخواني نظام ځينې چارواکي په خپل حکومت کې شامل کړي او د افغانستان د هوايي ډګرونو کنټرول د خپلو متحدينو له لارې په واک کې واخلي. د سياسي چارو کارپوه عزيز معراج وايي: ((دوه عمده علتونه دي، چې امريکا د هيڅ چا خبرو ته غوږ نه ږدي او د افغانستان پيسې يې کنګل ساتلي او اقتصادي فشارونه يې زيات کړي دي. امريکا غواړي، چې اوسني نظام کې د پخواني حکومت چارواکي ځای ولري او غواړي، چې هغه بيرته راولي. دويم دا چې امريکا هڅه کوي، د افغانستان د هوايي ډګرونو کنټرول چې په حقيقت کې د افغانستان کنټرول دی، خپلو متحدينو ته يې ورکړي او د پردې تر شاه به يې امريکا بيرته کنټرول کوي.))

د ملي نهضت کوند مشر سيد اسحاق ګيلاني وايي: ((دا پيسې واقعاً د افغانستان دي او بايد افغانستان ته ورکړل شي.))

د اسلامي امارت غوښتنه بيا همدا ده، چې واشنګټن دې کنګل شوې پيسې بيرته راخوشي کړي او نړۍ بايد له افغانستان سره سياسي اړيکې ورغوي، چې دا د ټولو په ګټه دي. د اسلامي امارت مرستيال وياند بلال کريمي وايي: ((د اسلامي امارت غوښتنه دا ده، چې د افغانانو کنګل شوې پيسې راخوشې شي. همدا راز سياسي اړيکې تقويه شي او د افغانانو حقوق په ملګرو ملتونو کې چې څوکۍ ده، بايد هغه چاته ورکړل شي، چې د افغانانو نماينده ګي کوي.))

له هغې وروسته چې پر افغانستان اقتصادي بنديزونه لګول شوي او شتمنۍ يې کنګل شوې، افغانان له اقتصادي ګواښ سره مخ دي او له خپلو ټولو هغو نړيوالو حقوقو بې برخې دي، چې د نړې نور ولسونه ترې برخمن دي، د کنګل شوې پانګې د بيرته خوشي کولو په موخه کابل کې پراخ لاريونونه هم تر سره شول، خو امريکا لا هم په پخواني دريځ ولاړه ده. #

پاتې برخه...

## اقتصادي کميسيون غونډه...

همداراز د افغانستان او ايران پر پوله د ګډ بازار پر طرحې، د افغانۍ د پولي ارزښت د کنټرول، د اوزبيکستان څخه تر تورخم پورې د رېل پټلۍ پروژې پر سروې، د صنعتي پارکونو او د خوراکي توکو پر فوري واردولو هم بحث وشو او په هکله يې لازم تصميمونه ونيول شول. #

**د ژورناليستانو، کارپوهانو، اديبانو، او ليکوالانو مو غوښتنه دا ده چې خپل قلمونه، فکرونه او استعدادونه د موجوده اسلامي او شرعي حاکم نظام د پايښت او د ګران هېواد د شېرازۍ په موخه په کار واچوي تر څو مو په کماحقه ډول د خپل راکړل شوي استعداد حق ادا کړی وي.**

محترم قاري محمد يوسف احمدي د اطلاعاتو او رسنيو مرکز رئيس

## تېر کال په افغانستان کې ۹۰۰ زره متره مربع غالۍ توليد شوې دي

د افغانستان د غاليو توليدوونکو شرکتونو د ټولنې مسئولينو ويلي، چې له ۹۰۰ زره متره مربع غاليو ۹۵ سلنه د پاکستان له لارې د پاکستان په نامه نړيوالو مارکېټونو ته صادرې شوې دي.

د افغانستان د غاليو توليدوونکو شرکتونو ټولنې غړيو ويلي؛ په تېر ميلادي کال کې د تېرو کلونو په پرتله د غاليو په توليد کې د پام وړ زياتوالی راغلی؛ خو د هوايي دهلېزونو د بندېدو له کبله د هېواد د غاليو صادرات ترسره شوي ندي. د غاليو توليدوونکو شرکتونو د ټولنې غړي د افغانستان له اسلامي امارت څخه غوښتنه کوي، چې د کورنيو غاليو د صادراتو لپاره دې هوايي دهلېزونو د بېرته پرانيستلو لپاره زمينه سازي وکړي.

د افغانستان د غاليو توليدوونکو شرکتونو د ټولنې مشر نور احمد نوري ويلي، موږ له اسلامي امارت څخه هيله لرو، چې نړيوالو بازارونو ته زموږ د صادراتو لپاره د هوايي دهلېزونو د بېرته پرانيستلو زمينه برابره کړي. د اقتصادي چارو کارپوهان د هېواد په اقتصاد کې د غاليو سکتور د توليد او صادراتو زياتوالی مهم بولي او زياتوي، چې د غاليو سکتور له پراختيا سره په هېواد کې د بېکارۍ کچه هم را ټيټېږي.

د اقتصادي چارو کارپوه سيدالرحمان عمران وايي: په هېواد کې د شغل له رامنځته کېدو سره د غاليو توليد پراختيا موندلې؛ حکومت بايد دې سکتور او صادراتو ته يې پاملرنه ډېره کړي، چې ملي هويت يې خوندي شي. د افغانستان د غاليو توليدوونکو شرکتونو ټولنې د خرګندونو له مخې؛ **د هېواد په کچه د غاليو د توليد په سکټور کې سلګونه شرکتونو نږدې يو نيم ميليون هېوادوالو ته د کار زمينه برابره کړې ده. #**

له شريعت ورځپاڼې

# ارګ پاڼه



د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

**صاحب امتياز:** د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنيو مرکز
**د اړيکي شمېره:** +93 (0) 202100633
**ايميل:** info@gmic.gov.af
**آدرس:** مرمرينه مانۍ، بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ، کابل - افغانستان


## فيصله کابينه:

**هېواد ته د بې کيفيته تيلو، ګاز، کود او نورو غير معياري موادو راواردول په مطلق ډول ممنوع دي.**

**افغانستان در سال ۲۰۲۱ میلادی به ارزش بیش از ۴۵۰ میلیون دالر میوه خشک صادر کرده است.**

محترم احمد الله وثيق، معاون سخنگوی امارت اسلامی افغانستان

## افغانستان او ايران متقابله همکاريو ته ژمن دي

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو سرپرست وزير محترم مولوي امير خان متقي په مشرۍ يو لوړ پوړي پلاوي په رسمي سفر ايران ته تللی او له خپل ايراني سيال دکتور حسين امير عبداللهيان سره کتلي دي.
په دې سفر کې افغان پلاوي د ايران د بهرنيو چارو وزير او پلاوي سره د افغانستان او ايران تر منځ په دوه اړخيزو اقتصاد محوره سياسي اړيکو، تجارت، سوداګرۍ، نفتي موادو ترانزيت او امنيتي موضوعاتو خبرې کړي دي.
په دغه کتنه کې دواړو لوريو د افغانستان ځمکنی موقعيت د مرکزي او جنوبي آسيا تر منځ مواصلاتي نښلونکې لار وبلله.
همدارنګه، افغان او ايراني پلاويو د ترانزيت په اړه هم په متقابله همکارۍ خبرې کړي.
د يادونې وړ ده چې په افغانستان کې د اسلامي امارت له حاکميت وروسته افغان حکومت لوړ پوړی پلاوی په لومړي ځل د ايران په رسمي بلنه ياد هېواد ته سفر کوي.
دا په داسې حال کې ده چې تردې وړاندې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو سرپرست وزير محترم مولوي امير خان متقي په مشرۍ لوړ پوړي پلاوو د ازبکستان، پاکستان، ترکيې او قطر په ګډون يو شمېر هېوادونو ته سفرونه کړي او هلته يې يو لړ هوکړې هم لاسليک کړي دي.#







**اميرالمؤمنين امر نموده است که در کابل و سائر ولايات تمام زندان‌ها بررسی شود و زندانی‌های بی‌گناه نه تنها فوری رها شوند، بل آنانيکه بی‌گناهان را در زندان انداخته اند، خود زندانی شوند.**

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون رياست الوزراء ا.ا.ا.

## د دې ګڼې انځور



**د نجم الدين اخوندزاده جامع جومات:**
ملا نجم الدين اخوندزاده چې په هډې صاحب هم شهرت لري يو افغان مجاهد و چې له انګريزي ښکېلاکګرو سره د لوی ننګرهار په سيمو کې جنګېدلی.
ملا نجم الدين اخوندزاده په خټه کاکړ و او په ۱۲۵۰ هجري لمريز کال د غزني ولايت په اندړو ولسوالۍ کې زېږېدلی. نوموړی خپلې زده کړې په ننګرهار، کندهار، پېښور او سوات کې له ځايي نامتو مشايخو څخه ترلاسه کړې. ملا نجم الدين اخوندزاده د ديني علومو له فراغت وروسته د کابل په پغمان او د شمالي په کوه دامن کې په تدريس پيل وکړ.
هغه وخت زيات مشهور شو چې کله يې د انګريزانو په وړاندې د جهاد ميدان ته ور ودانګل او په ۱۸۷۸، ۱۸۹۲ او ۱۸۹۳ زېږديز کلونو کې د ملکنډ، چکدرې، شوقدر، ميچنۍ او د مومندو په غزاګانو کې برخه واخيسته.
ملا نجم الدين اخوندزاده د لوړ عزم، سترې پوهې او نرم زړه خاوند وو، ښکلې او اغيزناکې ويناوې به يې کولې او د ژوند ډېره برخه يې د اسلام، هېواد او خلکو د خدمت لپاره وقف کړې وه.
د دغه ستر شخصيت په وياړ او د نوموړي د تاريخ او کارنامو د ژوندي ساتلو لپاره د نجم الدين اخوندزاده جامع جومات د ننګرهار ولايت د بهسودو ولسوالۍ په هډې کلي کې چې د جلال آباد ښار په ۸ کيلو مترۍ کې موقعيت لري جوړ شو.

پاتې برخه...

## په افغانستان کې د تاپي...



په برخه کې مهم بحث امنيتي موضوع ده چې اوس افغانستان کې وضعيت ښه شوی او په ياد هېواد کې د تاپي پروژې د تطبيق زمينه برابره شوې ده.
د ترکمنستان د بهرنيو چارو وزارت مرستيال ويلي چې روان ميلادي کال به په ترکمنستان کې د تاپي پروژې کار بشپړ شي او په ورته وخت کې به په افغانستان کې يې د پيپ تېرولو کار هم پيل شي.
حاجيوف وويل چې په هرات او نورو هغو ولايتونو کې به د ګاز د وېش منظم پلان عملي شي چې تاپي پروژه ترې تېرېږي.
د هرات د سوداګرۍ خونې مشر ښاغلی محمد يونس قاضي زاده په دې لېدنه کې تاپي پروژې ته په اشارې سره وويل چې بايد د يادې پروژې تخنيکي موضوعات له خصوصي سکتور سره شريک شي او د تخنيکي موضوعاتو په اړه له لوجستيکي شرکتونو سره خبرې وشي. #

پاتې برخه...

## د اسلامي امارت د کابينې...

کابينې پريکړه وکړه چې هېواد ته د بې کيفيته تيلو، ګاز، کود او نورو غير معياري موادو راواردول په مطلق ډول ممنوع دي. که له دې وروسته هر چا غير معياري مواد افغانستان ته راوارد کړل، له سخت چلند سره به مخامخ شي.
په تجارتي بندرونو کې د تيلو د ټانکرو د تجمع او بې کيفيته موادو راواردولو د ستونزې د ښې څېړنې او حل لپاره لوړ رتبه هيئت ته دنده وسپارل شوه چې تجارتي بندرونو ته سفر وکړي.
د کابينې مجلس ته د تشکيلاتو د تنظيم کميسيون کاري راپور او ځينو اداراتو په اړه شوې پريکړې وړاندې شوې، چې له معمولي تغير وروسته د مجلس لخوا تصويب شوې.
د کابينې په مجلس کې په نورو موضوعاتو هم بحث او پريکړې وشوې او غونډه د هيواد او ولس د ښېرازۍ په دعاء سره پای ته ورسيده. #

پاتې برخه...

## "له ټولو هېوادونو سره د ښو اړيکو...

حکومت ځينې چارواکي په کابل کې دامارت تر حاکميت لاندې ژوند کوي زياته کړه چې افغانان په هېواد کې د غوره ژوند مستحق دي او اسلامي امارت نه غواړي چې هېوادوال په ځانګړې توګه مسلکي او تحصيل کړي کسان له افغانستانه د نړۍ هېوادونو له هغې ډلې اروپايي هېوادونو ته کډوالي وکړي. #

**امارت اسلامی افغانستان وضعيت جاری در کشور قزاقستان را از نزديک نظارت نموده و به عنوان يک کشور همسايه و شريک تجارتی، از ناآرامی اخير نگران است. از حکومت و معترضان می‌خواهد مشکلات موجود را از راه گفتگو و تفاهم حل نمايند تا ثبات و آرامش به آن کشور برگردد.**

وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان

**هغه کسان چې عمومي عفوه تر پښو لاندې کوي له سختې سزا سره به مخ شي.**

محترم ملا فاضل مظلوم د ملي دفاع وزارت مرستيال

**شرکت افغان پُست در سه ماه گذشته، ۴۶ ميليون و ۳۹۱ هزار افغانی عوايد جمع آوری کرده است.**

وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی امارت اسلامی افغانستان